آصف بهاند ۲۰۲۵/۱۱/۲۳

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۴۹مه برخه

**شونډې مې تا پسې وتلې**
**خلکو ته وایم چې پېریان مې ډاروینه**

**راځه چې وېش د دنیا وکړو**
**یو ته زما شه، دنیا ټوله دې ستاشینه**

**زما غریبي ورځ ته ګوره**
**زما غریب جانان راپرېږده چې راځینه**

د دې برخې لپاره دا لاندې لنډۍ برابرې شوې دي:

**زما په بنې سلام وایه**
**جانان مې زوړ کړ او ته اوس وهې خالونه**

**بریا دې ستا وي ګلوطنه**
**پر ما مئېن درته د زړه دعا کوینه**

**جانانه ستا خاطر لپاره**
**د کلي جنګ، د مور خبرې تېرومه**

**پر دوېوال غلی، غلی راشه**
**د دروازې ځنځیر مې مور راویښوینه**

**لالی له ما نه مرور دی**
**زه مروره له تمامې دونیا یمه**

**جانانه ښه‌سوچونه وکړه**
**که مې د بدو زورلرې، درسره‌ځمه**

**زه د ازل په برخو نه یم**
**چې څنګ خالي شو، ژوند دې خاورې ایرې شینه**

**ماته ده مېنې زور معلوم دی**
**رب دې کافر له یاره نه جدا کوي**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پر ځان مینه، کرار کینه
زما خندا به دې لهکاره وباسینه

شونډې مې تا پسې وتلې
خلکو ته وایم چې پېریان مې ډاروینه

د طلاییپښو میرمنې
قدم په خیال پورته کوه مین دې کړمه

پښې دې ډکې طلا دارې
که ته سردار يې، زه دې څه پروا لرمه

د زړه دپاسه مې انبار شه
د لالي غمه د عُمرونو ځای دې یمه

دومره د ځان په غم کې نه یم
ما د لالي غمـونــه گــرده تــاوویــنــه

تا به د مینې خُم کې رنگ کړم
لکه لونگ به دې پر غاړه گرځومه

راځه چې وېش د دنیا وکړو
یو تهٔ زما شهٔ، دنیا ټوله دې ستاشینه

چې لبونی شوې، حال دې ووې
روغو به کله وې د مات زړگي حــالونه

سر دې پر سپینه سینه کېږده
امېل د غاړې بویوه، خوب به درځینه

ما درته وېل چې لږه کښینه
تا به په ژاولو ټس کاوه چې درنه ځمه

د ژمي شپه سره سبلۍ ده
ساړه دې وشه چې دې غېږ کې ونیسمه

په نوم دې زه بدنامهگرځم
د مازدیگردیدن دې نورخلک کوینه

د جانان غېږ کې څه کمال دی
زما دغره غوندې غمونه ورکوینه

مدام به زه درسره نه یم
چې هر ماښام دې زنگېدلی کورته ورمه

پرکلي سخته خاموشي ده
یا لالی مړ دی، یا يې کډې کړېدینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د سترګو جنګ نهدی جانانه**
**د نصيب جنګ دی، وارخطا ولاړه يمه**

**ته مئن نه يې، دروغ وايې**
**مئنه زه يم چې جامې دې بويومه**

**د بختورو په نصيب وي**
**په تور ماښام، د تورو سترګو ديدنونه**

**په شيش‌محل کې مې زړه تنګ دی**
**ما ته د يار جونګړه وښايئ چې ځمه**

**د غره پرسر دې ښامار وخوره**
**چې ډلې، ډلې پاړوګان درخېژومه**

**زما غريبې ورځ ته ګوره**
**زما غريب جانان راپرېږده چې راځينه**

**يوه دې بله ګناه وکړه**
**د نورو خلکو له يارۍ دې ووېستمه**

**تا په حجره کې ټپه وکړه**
**ما پر بلې پر زړګيونيول لاسونه**

**ته پر پيسو مئن يې ياره**
**وطن ته راشه، زه بر تا مئنهيمه**

**زما لالی په کې معلوم دی**
**د ټول اتڼ له وړکو جګ لاسونه وړينه**

**په نوم ئې زهٔ بدنامه ګرځم**
**لالی چې بله خوښوي، جفاکوينه**

**نهٔ مې هېرېږي د زړهٔ سره**
**کهٔ د اسمان تر ستورو ډېـر تېرشي کلونه**

**څهسوکړک نه دی چې پرې موړ شې**
**د سپينې‌خولې خوراک د شونډو په سروينه**

**د چا دادا به ورت ټينګ شي**
**پرګلابي شونډو د ژبې سروهينه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ